# زما ښار، زه هلته ژوند کوم، زه هلته رایه ورکوم!

ایا تاسو یو بهرنی یا خارجی تبعه یاست چې د رایې ورکولو حق شرایط پوره کوي؟

د رایې ورکوونکي په توګه د ښاروالۍ په ټاکنو کې نوم لیکنه وکړئ او او خپل غږ پورته کړئ تر څو ستاسو غږ واوري!



اجرا کونکي
DisCRI Asbl,CRIPEL

مسول مدیر:
Farid Nagui, Place Gustave Falmagne 5
5000 Namur

د ملاتړ سره

## ایا زه رایه ورکولی شم؟

**د اکتوبر ۱۳ د ۲۰۲۴ کال د ښاروالۍ او ولایتي ټاکنو لپاره خپرونې**

یوه یا کومه پوښتنه لرې ؟

: شین ( وړیا ) شمېره
(وړیا شمیره) ۱۷۱۸
بریښنالیک:
elections@spw.wallonie.be
بریښنا پانه یا ویب پانه
http://electionslocales.wallonie.be

## څنګه وکړو؟

**په خپله سیمه کې د سیمه ییز مرکز سره اړیکه ونیسئ**

**DISCRI** او یا سره

## زه نوم لیکنه کوم ځنګه ؟

د نوم لیکنه یا ګډون غوښتنلیک سپارلو سره.

برسېره پردې، د اروپایي اتحادیې غیر اتباع باید یوه اعلامیه یا ځرګندونه لاسلیک کړي *چې له مخې یې دوی د اساسي قانون، د بلجیم د خلکو قوانینو او د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د ساتنې کنوانسیون ته درناوی کوي.

د نوم لیکنې فورمه ستاسو د ښاروالۍ د نفوسو له څانګې او ستاسو کور ته نږدې د بهرنیانو د ادغام یا د بهرنیانو د یو ځای کیدو له څخه ترلاسه کیدی شي (CRI) سیمه ایز مرکز.

## سندونه چیرته وسپارئ؟

ستاسو د ښاروالۍ د نفوسو په څانګه کی.
که تاسو وغواړئ، تاسو کولی شئ خپل د نوم لیکنې یا د ګدون غوښتنه او خپل بیان د یوې اتحادیې له لارې خپلې ښاروالۍ ته وسپارئ.

>>>

دا اړینه ده چې تاسو باید د ۲۰۲۴ کال د جولای تر ۳۱ پورې خپل نوم لیکنه وکړئ.

د راجستر کولو یا نوم لیکنې سره، تاسو په اتوماتیک ډول د ښاروالۍ د راتلونکو ټاکنو لپاره راجستر یا ثبت کیږئ او بیا تاسو مکلف یاست چې رایه ورکړئ.

**د یو غیر اروپایی بهرني شخص په توګه، تاسو اوس مهال حق نلرئ چې ځان د نوماندو په لیست کې د نوماند په توګه وړاندې وکړئ.**
**له بلې خوا، اروپایان کولی شي ځانونه د ښاروالۍ ټاکنو لپاره په ټاکنیزو لیستونو کې وموميي او د ښاروالۍ سلاکارانو یا حتی د CPASرییس یا مشر په توګه وټاکل شي.**

ټول هغه بهرنیان چې د رای ورکوونکو په نوم لیکنه کې نوم لیکنه کوي د رایې ورکولو لپاره اړین دي، پرته لدې چې د توجیه وړ نشتوالی یا حقوقي وکیل ولري.

## د ښاروالۍ په ټاکنو کې څوک رایه ورکولی شي؟

**د بلجیم ټول اتباع:**

- د ټاکنو په ورځ کې ۱۸ کلن وي؛
- له مدني او سیاسي حقونو څخه برخمن شي.
- د یو ښار یا ښاروالۍ اوسیدونکی وي.

**هر خارجی یا بهرنی**

- یو غیر اروپایي اتحادیې تبعه چې د ګډون غوښتنلیک سپارلو په وخت کې په بلجیم کې پنځه کاله پرله پسې یا نا پریکړی اصلي او قانوني استوګنځي لري ؛
- د اروپایی اتحادیې تبعه چې د بلجیم تابعیت نلري او د جولای ۳۱/ ۲۰۲۴ کال دمخه راجستر یا ثبت شوی دی.

**هغه خلک چې د ښاروالۍ په تیرو ټاکنو کې یې نوم لیکنه کړې، نور اړتیا نلري چې بیا نوم لیکنه وکړي، مګر د رایې ورکولو مکلفیت لري.**

دا د ټولو اروپایی اتحادیې اتباعو او همدارنګه د ټولو غیر اروپایی اتحادیې اتباعو لپاره ټاکل شوی چې د دوی د نوم لیکنې غوښتنې په وخت کې لږترلږه ۵ نا پریکړې یا پرله پسې کلونو لپاره په بلجیم کې اوسیږي.

## ټاکنو ته تلل :یو مدني اقدام

هرڅوک چې په بلجیم کې ژوند کوي او د یو ښاروالۍ یا ښار په ساحه کې اوسیږي.

د ښاروالۍ چارواکی د ښاریانو سره نږدې دی.

**رایه ورکول د خپلې ښاروالۍ د مدیریت لپاره د خوښې او ارادې ځرګندول په معنی دی**